


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، تولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# الحاج عبدالمجید « نقیبي »

د نشر نیټه : 7 فبروری 2015 م

# نن

څاڅکي مې د اوښکو په ګریوان شو نن
ستا له دې فغان زړه په فغان شو نن
ونه ژاړم څنګه ویلی نه شم زه
ښه ښایسته بهار دې چې خزان شو نن
مینه کمیدو کې ښکاري ولې وای!
څه له نفرتونو ډ ک جها ن شو نن
ښکاري د الفت کوڅې خالي خالي
زړونو ځینې جوړ دتیګو کاڼ شو نن
چا و نا زو زخمي زړګی د چا
څوک د چا تېپونو ته د رمان شو نن
چا د نفرتو بلا قا بو کړ له
څوک د پا کې مینې نګهبان شو نن
ښکته کړی ګریوان ته خپل نظروکړی
چیرته د علي صفت ا نسا ن شو نن
چا رب ته کړه مخه چا توبه وکړه
څوک په خپلو کړونو پښیمان شو نن
واي نقیب تل په زړونو خیال ساتی
وګوری په کومې لارې روان شو نن
***
عبدالمجید « نقیبي »
برول – کلن – جرمني

بازګشت به صفحه اصلی www.said-afghani.org